**Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English**
Abbreviated Key Title: *Spr. Multidiscip. J. PS. Per. E.*
Journal homepage: https://sprinpub.com/smjppe
**ISSN: 2584-0975 (online)**
*Vol.1(02). Dec 2023, pp, 01-17*
OPEN ACCESS

*Research Article*

# The Morphological and Semantical Effects of Phonemes on Pashto Lexical Structures

# په پښتو لغوي جوړښت کې د غږونو مورفولوژيکي او مانيزې اغېزې

**Alokozay Taib[1*], Mohammad Usman Solizay[2]**
الکوزی تایب[1*]،محمد عثمان څولیزی[2]

[1]Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Kabul Education University, Afghanistan
کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو ژبې او ادب څانګه
[2]Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Education, Bamyan University, Afghanistan
بامیان پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، پښتو ژبې او ادب څانګه

**DOI:** 10.55559/smjppe.v1i02.200 **Received:** 15.08.2023 | **Accepted:** 01.12.2023 | **Published:** 07.12.2023

**Electronic reference *(Cite this article)*:**
Taib, A., & Solizay, M. U. The Morphological and Semantical Effects of Phonemes on Pashto Lexical Structures: په پښتو لغوي جوړښت کې د غږونو مورفولوژيکي او مانيزې اغېزې. *Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English*, *1*(02), 01–17. https://doi.org/10.55559/smjppe.v1i02.200

**Copyright Notice:**
© 2023 the Author(s). This is an open access article published by Sprin Publisher under the Creative Commons' Attribution 4.0 International (CC BY 4.0) licence. https://creativecommons.org/licenses/by/4.0/

## Abstract

Phonemes and segments are the key elements in the structure of Pashto words, playing an important role similar to other languages worldwide. Through the combination and arrangement of these segments, numerous morphemes and diverse words are generated. When assigning a vowel or consonant to the origin or base form of a word, it leads to the creation of new words and constructions that possess different forms, meanings, and belong to various grammatical categories. Structurally, at least one, two, three, or a maximum of four bound morphemes in the form of segments or phonemes could be added to the root or base morpheme, thus generating new lexemes and words. The addition of new phonemes and segments to the base or root form of a word alters its case, identification, quality, quantity, gender, number, tense, modification, meaning, and grammatical classification. Another important role of segments in the structure of lexemes is the syllabification of simple and complex words. The accumulation of each phoneme brings changes in the number of syllables within that word or phrase. Vowel segments primarily contribute to the syllabification of words. In conclusion, the hierarchical arrangement of segments generates new morphemes, while the combination of bound and free morphemes forms the basis for creating new simple, compound, and complex words in the Pashto language.

***Keywords:*** Pashto language, words, phonological, morphological and semantical effects

**لنډيز**

غړونه د نړۍ د نورو ژبو په څېر په پښتو ژبه کې هم د وییونو د رغښت په برخه کې د ملا د تیر حیثیت لري. همدا غړونه دي چې اوډون، سمون، ترتیب او ترکیب څخه یې مورفیمونه او راز راز لغتونه رامنځته کېږي. د یو آر او خپلواک ویي په ریښې پورې د خپلواک یا بېواک غړ یا هم غړونو د نښلون په ترڅ کې د نوې بڼې، مانا او ګرامري ډلګۍ لرونکی لغت رامنځته کېږي. د پښتو ژبې د لغوي جوړښت له مخې د آر او خپلواک لغت په ریښې پورې په پرله پسې توګه یو، دوه، درې او حتتا تر څلورو پورې تړلي او مقید مورفیمونه نښلېدی شي. په یو ساده او خپلواک آر لغت او مورفیم پورې نوي نښلول شوي یا نښلېدلي تړلي مورفیمونه او غړونه د یاد لغت په حالت، کیفیت، څرنګوالي او څومره والي کې د جنس، شخص، شمېر، مهال، دریځ، مانا او ګرامري ډلګۍ له مخې بدلون رامنځته کوي. په پښتو لغوي جوړښت کې د غړونو او مورفیمونو بله ښېګڼه او ځانګړنه دا ده، چې له برکته یې د کوچنیو او سترو وییونو څپه ییز شمېر څرګندېږي. دا ځکه چې په لغت کې د څپو شمېر په نوموړي ویي کې په راغلو او کارول شویو خپلواک غړونو پورې تړاو مومي. نو که په لنډه توګه ووایو همدا غړونه دي چې په یواځیني یا پرله پسې اوډون څخه یې مورفیمونه او همدارنګه د خپلواکو او مقیدو مورفیمونو له تړښت څخه راز راز ساده، ترکیبي او مرکبې کلیمې رغښت مومي.


**مهم ټکي:** پښتو ژبه، لغت، غړیزې، مورفولوژیکي، مانیزې اغېزې.

**سریزه**

پښتو ژبه د اندو اروپایي ژبو د سترې کورنۍ د آریاني ښاخ په ختیځې ډلګۍ پورې اړوندېږي. د پښتو ژبې ارزښت د ژبپوهانو لپاره له دې کبله مهم دی چې دغه ژبه د انډیک او آریاني دواړو ډلو ژبو غړیزې او مورفولوژیکي ځانګړنې په ځان کې رانغاړي او دا بیا په ټوله کې د ژبو د دې لویې کورنۍ یوه ټولیزه ځانګړنه ده، چې لغتونه پکې په اشتقاقي توګه پنځېږي. پښتو ژبه کې هم د انډو اروپایي ژبود کورنۍ د بلې هرې ژبې په څېر غړونه او مورفیمونه د ساده، ترکیبي او مرکبو لغتونو د ملا د تیر حیثیت لري. په دې مانا چې ځینې وختونه په یو ساده او آر وییز جوړښت کې د یو فونیم زیادښت یا کمښت د بل مانالرونکي لغت د ایجادېدو لامل کېږي. دغه فونیم په یاد لغوي جوړښت کې له ګرامري او مانیز پلوه دوه نقشونه لوبوي؛ په دې مانا چې یاد غړ په لغوي جوړښت کې هم فونیم دی او هم په ورته مهال کې یې د یو بنسټیز مورفیم نقش لوبولی دی. همدا لامل دی چې د یو فونیم په اوښتون، بدلون، زیاتوالي یا محوه کېدو سره لغت نوې بڼه او له ګرامري اړخه بله مانا غوره کوي. دا هغه څه دي چې په وییز جوړښت کې د مورفوفونولوژیکي عملیې ارزښت په ګوته کوي.

دا چې دغه څېړنیزه مقاله په ټوله کې کتابتوني بڼه لري، خو د موضوع د ښې شننې او سپړنې لپاره له تحلیلي، پرتلیز او توضېحي مېتودولوژۍ څخه هم کار اخیستل شوی دی. د څېړنې د شالید او ادبي مخینې په پار له کره، معیاري او منلو اخځونو څخه چې د همدې مقالې په محتویاتو او د ماخذونو په برخه کې یې موندلی او لیدلی شئ کار اخیستل شوی دی. په ډېری هغو آثارو کې چې ددې مقالې د بشپړاوي لپاره یې پاڼې اړول شوي، د محتویاتو او

موضوعاتو د ورته والي له کبله چې يو له بله يې اخيستي يوازې په پای کې د ماخذ په ښودلو بسنه شوې او په منځپانګه کې يې له تکراري راوړلو څخه ډډه شوې ده.

## د پښتو ژبې صرفي جوړښت

هره هغه وسيله او پديده چې انسانان پرې خپلې غوښتنې، پوښتنې، خوښې، غمونه، دردونه، فکرونه، اندونه، کلتورونه، پوهه او ارزښتونه يو له بله شريکوي او نورو ته يې په ميراث پرېږدي ژبه بللی شو. د ژبې په وسيله انسانان خپلې موخې او هدفونه يو بل ته څرګندوي او د هغې په ذريعه په خپلو منځو کې اړيکې ټينګوي. ژبه هم د نورو پديدو په شان بدلون کوي، د دغو بدلونونو بېلګې له پخوا څخه په ژبه کې ډاګيزې دي چې له ډېرو پېچلو ځپيزو جوړښتونو څخه د ساده ځپه ييزو جوړښتونو په لور تر سره شوي او له ورايه په ژبو کې تر سترګو کېږي.

آرياني ژبې هغو ژبو ته ويل کېږي چې له آره يوې واحدې ژبې يعنې لرغونې آرياني ژبې ته رسېږي. لرغونې آرياني ژبې د لرغونو هندي آريايانو له ژبې سره يوځای د اندو اروپايي ژبو ختيځه څانګه (اريک) تشکيلوي. پښتو د آرياني ژبو د شمال ختيځې ډلګۍ ژبه ده او د افغانستان په ټولو ولايتونو کې مروجه ده. د پاکستان د شمال لويديځ په سلو کې د اويا وګړو ژبه ده، چې له شمال څخه تر چترال او له ختيځ څخه تر هزارې او ډېره اسماعيل خان پورې محدوده ده. پښتو ژبه د پاکستان په شمالي سرحداتو کې غالبه خو په نورو سيمو کې بيا خوره وره ده. په هندوستان کې هم محدود شمېر پښتانه استوګن دي، خو د نفوسو کره شمېر يې روښانه نه دی. ددې وګړو ترڅنګ محدود شمېر پښتانه په چين او ګڼ شمېر يې بيا د ايران هېواد کې مېشت دي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د نفوس په سلو کې شپېته سلنه پښتانه تشکيلوي (شپون، ۱۳۹۵ل: م م ۳۷-۵۱).

پښتو ژبه چې د افغانستان ملي او رسمي ژبه ده، زموږ د هېواد شاوخوا دولس ميليونه او په بل عبارت له ۶۲ سلنه څخه زيات وګړي پرې خبرې کوي او په پښتونستان کې نږدې ۷ ميليونه پښتانه پرې ګړېږي (شينواری، ۱۳۹۳ل: م ۲۹).

پښتو ژبه د مورفولوژۍ له مخې د اوښتونکو ژبو په ډله کې راځي، په دې مانا چې د لغتونو ګرامري بڼې د لغتونو د منځنۍ او پای برخو کې د اوښتنې په واسطه رامنځته کېږي (شافييف، ۱۳۹۵ل: م ۷).

په پښتو دوديز ليکدود کې ټول شته غږونه د ځانګړو ګرافيمونو لرونکي نه دي، په دې مانا چې په مروج ليکدود کې کله کله دوه يا درې غږونه يوازې په يو ګرافيم يا توري سره ښودل کېږي. همدغې چارې په خپله د پښتو ژبې ويونکو او په ځانګړې توګه د هغه چا لپاره دغه چاره ټکنۍ کړې چې غواړي دغه ژبه د دويمې ژبې په توګه زده کړي. د بېلګې په توګه ويلی شو په پښتو کې اوږد واو /o/، څرګند واو /u/ او نيمواک واو /w/ درې واړه په يو ګرافيم او سېمبول /و/ سره ښودل کېږي. همدارنګه په پښتو ژبه کې زور /a/ او زورکی /ə/ هم په يو ګرافيم /ه/ سره ښودل او ليکل کېږي. دا په داسې حال کې ده چې د ژبپوهنيزو قواعدو له مخې که په يو لغوي جوړښت کې يو غږ يا فونيم په بل غږ واوړي، نو په پايله کې يې لغت له مانيز او شکلي بدلون سره مخ کېږي، نو له دې ځايه ويلی

شو په پښتو ژبه کې داسې مختلف غږونه شته چې د ګرافیمونو د کموالي له کبله په یو سمبول لیکل کېږي. بل لور ته داسې غږونه هم شته چې له مسلکي او متخصصو کسانو پرته عادي او نالوستي وګړي او غیر مسلکي کسان یې په یو ډول تلفظ کوي، خو که له غږپوهنیزو اساساتو، غږیزو وتونځیو او غږیز ځرنګوالي له مخې وڅېړل شي، نو په بشپړه توګه یو له بله توپیر سره لري. د دغو غږونو په برخه کې له ځ، ذ، ز، ظ څخه د بېلګې په توګه یادونه کولی شو. دغه چاره هم د پښتو ژبې په غږیز او لیکدودیز سیستم کې د کړکېچونو د شتون ښکارندویي کوي.

## مورفولوژي او مورفولوژیکي جوړښتونه

پر پښتو ژبې له پورتنیو خبرو اترو وروسته به اوس په لنډه توګه ګړپوهنې ته تم شو. د پښتو ژبې د ګرامري آثارو له مخې ګڼو پوهانو په خپلو کښلو څېړنیزو کتابونو کې یوازې د لفظونو په ادلون بدلون سره صرف یا مورفولوژي داسې تعریف کړې چې موخه یې یوه ده. دلته په لنډه توګه له دغو آثارو څخه د مورفولوژۍ او صرفي پدیدو لنډې پېژندنې رااخلو.

په ټولیزه توګه د مورفولوژي اصطلاح جرمني شاعر، ناول او ننداره لیکوال او فېلسوف پوهان ولفګنګون ګوېټه (۱۷۴۹ – ۱۸۳۲) ته اړوندېږي، چې د نولسمې پېړۍ په لومړیو کې یې په بیولوژیکي محتویاتو کې وړاندیز کړه. له اېتمولوژیکي اړخه له یوناني کلیمې مورف (Morph-) څخه د شکل او بڼې په مانا رغښت موندلی او ګړپوهنه په اصطلاح کې د لغوي بڼې یا بڼو مطالعې ته ویل کېږي(Aronoff & Fudeman, 2011: pp 73 -74).

پوهاند محمد صابر خوېشکی په خپل اثر پښتو معاصر ګرامر کې د ګړپوهنې په هکله داسې وایي: «مورفولوژي د ګرامر هغه برخه ده چې د یوې ټاکلې ژبې ټاکلي مورفیمونه د هغوی جوړښت، ترکیب، ګردان او ډولونه یې څېړي» (خوېشکی، ۱۳۹۷ل: م ۸۷).

بل لورته استاد پوهاند صدیق الله رښتین په خپل نامتو اثر پښتو ګرامر کې د مورفولوژۍ پېژندنه داسې کړې ده: «صرف هغه پوهه ده چې د کلیمو له ډولونو، حالتونو، بدلون، ګردان، اشتقاق او د کلیمې د نورو تشرېحاتو په هکله بحث کېږي» (رښتین، ۱۳۷۲ل: م ۴۴).

ګړپوهنه یا صرف د ګرامر هغه برخه ده چې د مورفیمونو له رغونې، نښلونې، بېلونې، بدلون، ګردان او ډلبندۍ سره کار لري. ګړپوهنه د ګړونو د ډولونو له مخې پر دوو څانګو وېشل کېږي، چې یوې برخې ته یې ګردانېدونکي (اوښتونکي) مورفیمونه ویل کېږي او بلې برخې ته یې نه ګردانېدونکي (نه اوښتونکي) مورفیمونه ویل کېږي. اوښتونکي مورفیمونه بیا په خپل وار سره په دوو نورو سترو ډلګیو وېشل شوي دي، چې یوې برخې ته یې د نوم ګړپوهه او بلې برخې ته یې د کړ یا فعل ګړپوهه ویل کېږي (زیار، ۱۳۸۴ل: م م ۸۵ – ۸۶).

ښاغلی ملاتړ په خپل نامتو اثر (په پښتو ژبه کې د نورو ژبو وییونه او اصطلاحات) کې د ګړپوهنې په کله داسې لیکي: « مورفولوژي یا صرف د ګرامر هغه برخه ده، چې د یوې ټاکلې ژبې ټاکلي مورفیمونه د هغوی جوړښت،

ترکیب، گردان او ډولونه تر څېړنې لاندې نیسي. یا مورفولوژي د ژبپوهنې د یوې څانګې په توګه د ژبې د کوچنیو واحدونو د جوړښت بیان ته ویل کېږي. مورفیم هغه کوچنی ژبنی واحد دی، که تجزیه شي خپله مانا له لاسه ورکوي یا هم مورفیم د لفظي جوړښت تر ټولو کوچني مانا لرونکي واحد ته ویل کېږي» (ملاتړ، ۱۳۹۷ل: م م ۴۲ - ۴۳).

بل لور ته ښاغلی استاد پوهاند محمد آقا شېرزاد په خپل نامتو اثر پښتو ګرامر مورفولوژي کې د ګړپوهنې د پېژند په هکله داسې نظر څرګندوي: «مورفولوژي کې د یوې ټاکلې ژبې ټاکلي مورفیمونه، د هغوی جوړښت، شکلونه، ترکیب، اشتقاق، ګردان او د هغوی ډولونه تر څېړنې لاندې نیول کېږي یا مورفولوژي د تشریحي ژبپوهنې د یوې څانګې په توګه د یوې ژبې مورفیمونه، د هغوی جوړښت او ډولونه ترڅېړنې لاندې نیسي او یا هم مورفولوژي د یوې ژبې د مورفیمونو له ترکیب او تجزیې څخه بحث کوي» (شېرزاد، ۱۳۹۷ل: م ۴۱ – ۴۲).

مورفولوژي د ژبپوهنې هغه څانګه ده، چې مورفیمونه تر څېړنې او ارزونې لاندې نیسي یا هم په ځانګړې ژبه کې د لغتونو جوړښت تر بحث او څېړنې لاندې نیسي، همدارنګه د ټاړو ځای پرځاینه، اوډنه، ننویستنه، اشتقاق او داسې لغوي بدلونونه څېړي چې له مخې یې لغوي ډلګی او اړوند موضوعات څېړل کېږي. مورفیمونه د هرې ژبې په لغوي جوړښت کې بنسټیز او اساسي نقش لوبوي چې له مخې یې لغتونه په ډلګیو وېشل کېږي او د جوړښت له مخې یو له بله توپیرېږي. مورفیمونه موږ سره مرسته کوي څو ډاګیزه کړو چې په یو نحوي جوړښت کې کوم توکي خپلواک، مانا لرونکي او کوم توکي مرستیال او بشپړاند دي. ګړ یا مورفیم په یوه ژبه کې تر ټولو کوچنی مانیز توک دی، چې د دوو یا څو اوازونو له یوځای کېدو څخه رغښت مومي او له تجزیې څخه یې ساده اوازونه یا بې مانا توکونه لاس ته راځي. هر هغه خپلواک او مستقل غږ چې د یو خپلواک لغت په مانیز دریځ کې بدلون راولي د مورفیم په نامه سره یې یادولی شو (زیار، ۱۳۸۴ل: م ۸۴).

مورفیم کله کله د خپل چاپېریال یا نورو عواملو د تاثیر له کبله بدلون مومي او بېلابېل شکلونه غوره کوي. د مورفیم دغو بېلابېلو عواملو ته چې د چاپېریال له کبله ورپېښېږي او د فونیمونو نور بدلونونه چې په مورفیم کې د مختلفو عواملو له کبله واقع کېږي مورفو فونیمیکي بدلون وایي (غوربندی، ۱۳۹۹ل: م ۱۷۲).

ښاغلی پوهاند محمد آقا شېرزاد د ګړ د پېژندنې په هکله داسې وایي: «مورفیم په ژبه کې تر ټولو کوچنی لفظي واحد دی چې لغوي او ګرامري مانا ولري او که تجزیه شي خپله مانا له لاسه ورکوي او په ترڅ کې یې اوازونه لاس ته راځي» (شېرزاد، ۱۳۹۷ل: م ۴۲).

بل لور ته پوهاند محمد صابر خوېشکی په خپل پښتو معاصر ګرامر کې مورفیم داسې راپېژندلی دی: «مورفیم هغه کوچنی مانیز واحد دی، که تجزیه شي خپله مانا له لاسه ورکوي او له تجزیې څخه یې بې مانا اوازونه لاسته راځي. یا د یوې ژبې په خبرو کې کوچني مانیز واحدونه چې مانا ولري مورفیم بلل کېږي (خوېشکی، ۱۳۹۷ل: م ۸۷).

د نورو ژبو په څېر د پښتو ژبې نحوي او ګرامري جوړښت هم له کوچني څخه د لوی په لور په ترتیب سره له مورفیم، لغت، عبارت، فقرې او جملې څخه رغښت مومي. د ژبپوهنې هر توک که هغه لوی دی که کوچنی په خپل وار سره د یولړ ځانګړنو لرونکی دی؛ نو مورفیم هم یو له هغو ژبنیو توکو څخه دی چې یولړ ځانګړنې لري، دغه ځانګړنې یې په لاندې توګه یادولی شو.

### د پښتو مورفیمونو ځانګړنې

مورفیم تر ټولو کوچنی ژبنی توک دی چې تل او په هرځای کې ګرامري او په ځینې ځایونو کې لغوي مانا لري، خو تل او په هر ځای کې لغوي مانا نه لري. بل لور ته که مورفیم ته له بلې زاویې وګورو، نو تر ټولو ژبنیو توکو یې کوچنی ژبنی او ګرامري توک ګڼلی شو چې لغوي یا هم ګرامري مانا لري. د مورفیم په بله ځانګړنه کې دا هم ویل کېږي چې تر ټولو کوچنی نه تجزیه کېدونکی ژبنی او ګرامري توک دی چې له تجزیې څخه یې مانیز او بې مانا توکونه لاسته راځي. همدارنګه د مورفیم په برخه کې دا هم ویل کېږي چې مورفیم په لغوي جوړښت کې تر ټولو کوچنی رغاند توک دی چې له اوډون څخه یې ساده او مرکب لغتونه لاس ته راځي. په لغوي جوړښت، ترکیب او ترتیب کې هم مورفیم رغنده او بنسټیز نقش لوبوي. په دې مانا همدا مورفیم یا مورفیمونه دي چې په لغوي مانا کې ادلون بدلون رامنځته کوي او د نحوي او ګرامري بدلون لامل کېږي. مورفیمونه هغه کوچني ژبپوهنیز واحدونه دي، چې ګرامري مانا ولري. د مورفیمونو د پېژند بله لار چې ګړونه یې له مخې پېژندل کېږي د غږ او مانا غبرګېدنه ده. ځینې مورفیمونه په موخنه او ذاتي توګه متصله بڼه نه لري، خو ځینې نور بیا داسې دي چې په یوه کارېدونکې ګړنه کې کومه ځانګړې مانا نه لري.

د پښتو ژبې د مورفیمونو یوه ځانګړنه دا ده، که په مستقله او خپلواکه توګه وکارول شي، نو په خپل آر تلفظ سره ادا کېږي، خو کله چې یو مورفیم له بل مورفیم سره په نښتې او تړلې توګه ګډ وکارول شي نو جلا مانا، تلفظ او له ګرامري اړخه کارونه خپلوي. په دې مانا چې په پښتو ژبه کې یوازې خپلواک مورفیمونه په ځانګړې او انفرادي توګه کارېږي او کارېدی شي، خو بل لور ته مقید مورفیمونه بیا داسې دي چې خپله خو په مستقله توګه د استفادې وړ نه دي، اما کله چې له بل نامقید مورفیم سره په ګډه او نښتې توګه د کلیمې په سر، منځ یا هم پای کې راشي نو د یادې کلیمې مانا، بڼې او اداینې ته بدلون ورکوي.

لغوي تنه (Stem) په وییز جوړښت کې هغه بنسټیز توک ته ویل کېږي چې مورفولوژیکي توکونه ورپورې نښلول کېږي. ښايي وییزه تنه د جوړښت له مخې ساده یا هم پېچلې وي. په دې مانا چې په خپله وییزه تنه هم له یوې څخه زیاتو برخو څخه رغښت موندلی شي. لغوي ریښه هم د تنې په څېر د لغت زړی یا هسته جوړوي چې نور وییز توکي ورپورې نښلول کېږي، خو په خپله دغه ګړنه له مورفولوژیکي اړخه ساده ګڼل کېږي. د مورفیم ګرامري کارونه یو مهم تصور دی، چې باید جدي وګڼل شي، ښايي یوه ځانګړې مانا په برکې ونیسي او پایداره وي (څولیزی، ۱۳۹۹ل: م م ۱۴۷ – ۱۵۱).

### د پښتو مورفیمونو ډلبندي

ددې سرلیک لپاره د ګڼو ژبنیو، ګرامري او ژبپوهنیزو آثارو پاڼې کتل شوي، په مختلفو آثارو کې څېړونکو له بېلابېلو لرلیدونو څخه مورفیمونه په راز راز ډلګیو باندې وېشلي دي. دلته په لنډه توګه د بېلابېلو پوهانو او ژبڅېړونکو له انده د ګړونو (مورفیمونو) ډلبندۍ ته تم کېږو.

پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار په خپل اثر (پښتو پښویه) کې مورفیمونه په ټوله کې په دوو سترو ډلګیو وېشلي دي چې یوې ډلګۍ ته یې آر (خپلواک) مورفیمونه او بلې ډلګۍ ته یې ناآر (ناخپلواک) مورفیمونه ویل کېږي. آر یا خپلواک مورفیمونه هغو مورفیمونو ته ویل کېږي چې په ژبني بهیر کې په خپلواکه توګه مانا ښندي او د یو لغت دریځ خپلوي. بل لور ته ناآر یا ناخپلواک (مرستیال) مورفیمونه هغو مورفیمونو ته ویل کېږي چې د ګړهار په بهیر کې د یو مانا لرونکي لغت جز یا برخه جوړوي. همدارنګه نوموړی په دوام کې زیاتوي: په نومواله (اسمي) ګړپوهه کې نوم له خپلو ټولو ډولونو سره راځي او په کړواله ګړپوهه کې کړ یا فعل له خپلو ټولو ډولونو سره شاملېږي. کړ ګړپوهه د کړ له راز راز ډولونو او اوړونونو څخه بحث کوي او کړ یا فعل اوړون منونکی لغت دی چې په بنسټیز ډول له مهال سره تړاو لري او له مانیز پلوه بیا داسې لغت دی چې د یوې پېښې د پېښېدنې حالت څرګندوي (زیار، ۱۳۸۴ل: م ۱۴۲).

که د مورفیمونو وېش او ډلبندي د ښاغلي پنزل له لرلیده وڅېرو نو نوموړی په خپل نامتو اثر پښتو ګرامر کې داسې وایي: مورفیمونه د ژبې هغه نه وېشل کېدونکي واحدونه دي چې لغوي ماناوې ولري او په ټولیزه توګه په دوه ډوله وېشل شوي دي. لومړی هغه مورفیمونه دي چې یواځې ګرامري او ظاهري بڼه لري، دویم هغه مورفیمونه دي چې ځانګړی او په مستقل ډول استعمالېږي او مقید مورفیمونه ورپورې نښلول کېږي یا ونښلول شي. د کلیمو ډولونه د مورفیمي ګرامري ډلګیو د ښودلو لپاره کارېږي، چې دغه ډولونه په پښتو کې ډېر دي. د کلیمو د اساسي ډولونو پېژندنه یوازې پر صرفي ممیزاتو نه بلکې د هغوی پر نحوي خصوصیاتو هم بنا ده. ډېری نومونه د جنس له دوه ګونو ډلو څخه په یوې ډلې کې شاملېږي. د نومونو د جنس پېژندنه اصلاً د هغوی د شکل او اړوندو تاړو (لاحقو) په مرسته صورت مومي، چې حالت او عدد ورڅخه معلومېږي او دغه تاړي د جنسیت (نارینه او ښځینه) له مخې یو له بل سره توپیر مومي. ستاینومونه هم د جنس، حالت او عدد له مخې پر نحوي اساس د مطابقت له مخې ټاکل کېږي (پنزل، ۱۳۸۹ل: م م ۶۳ - ۶۴).

پوهاند محمد صابر خوېشکی په خپل اثر (پښتو معاصر ګرامر له فونیمه تر جملې) کې مورفیمونه په ټوله کې په دوو ډلګیو باندې وېشي، چې د یوې ډلې ته یې تړلي یا رغښتوال مورفیمونه ویل کېږي او بلې ډلې ته یې خپلواک یا نامقید مورفیمونه ویل کېږي. نوموړی زیاتوي ناخپلواک یا مقید مورفیمونه هغو مورفیمونو ته ویل کېږي چې په ځانګړي او خپلواک ډول د استعمال وړ نه وي، خو که په ځانګړي او خپلواک ډول استعمال هم شي نو کومه مانا نه ورکوي. په دې ډول مورفیمونو کې (سرینې، پسینې، مختاړي، وروستاړي او ادات) شاملېږي. په دویمه ډلګۍ

کې خپلواک یا نامقید مورفیمونه راځي او د مورفیمونو هغه ډله ده چې په خپلواک او مستقل ډول د استعمال وړ او ځانګړې مانا ولري. په دې ډول مورفیمونو کې نومونه، ستاینومونه، ضمیرونه، قیدونه او فعلونه شاملېږي ( خوېشکی، ۱۳۹۷ل: م م ۹۳ – ۱۲۳).

په پښتو ژبه کې تاړي په ځانګړې توګه وروستاړي په مختلفو موخو سره کارول کېږي. د همدغو تاړو (وروستاړو) او مورفیمونو په واسطه په نومواله برخه کې دا هم څرګندېږي چې یو اسم نارینه دی که ښځینه، مجرد دی که مانا، مفرد دی که جمع، حتتا کسب او کار او ځای او مکان په نومونو پورې د تاړو او مورفیمونو په نښلولو سره ښودل کېږي. د تاړو او مورفیمونو یوه ګټه او ښېګڼه دا هم ده چې عددونه هم یو له بل سره د جنسیت، حالت او شمېر له مخې توپیروي. د همدغو تاړو او مورفیمونو له برکته کلیمې هم یو له بله توپیرولی شو او دا ټاکو چې یوه کلیمه له ګرامري اړخه او د لغوي جوړښت له مخې په کومه ډلګې (نوم، ستاینوم، ضمیر، قید، فعل) کې شاملېږي. ناخپلواک یا مقید مورفیمونه د یوې ژبې په وینا او عبارت کې هغه وړې ټوټې او برخې چې په ځانګړي او مستقل ډول د استعمال وړ نه وي، خو که استعمال هم شي نو هېڅکله بشپړه مانا او مطلب ځنې نه اخیستل کېږي (شېرزاد، ۱۳۹۷ل: م ۴۹).

تاړي یا وندونه هغه ناخپلواک یا مقید مورفیمونه دي چې له خپلواکو او ازادو مورفیمونو سره د یوځایوالي او پیوستون له کبله یې مانا څرګندېږي او په پښتو کې درې ډوله تاړي موجود دي: مختاړي د ناخپلواک مورفیمونو څخه دي چې له خپلواکو کلیمو او مورفیمونو څخه دمخه راځي او مانا ته یې بدلون ورکوي او دغه لاندې ډولونه لري: د نفي او نهي مختاړي (بې، نه، مه په بې فکره، نه کوم، مه راځه کې) د مطلقیت مختاړي (و/ماضي لکه په وخوړ کې) او کلیمه جوړوونکي مختاړي (بې، نا، هم... په بې خوبه، ناروغ، همغاړی کې). وروستاړي هغه ناخپلواک مورفیمونه دي چې د ازادو او خپلواکو مورفیمونو یا کلیمو په پای پورې نښلول کېږي او یو نوی مشتق او ترکیب رامنځته کوي او په ټوله کې په دوه ډوله وېشل شوي دي: لومړی صرفي وروستاړي (فاعلي یا مفعولي) او دویم اشتقاقي وروستاړي (الف، وال، خېل، زی، نی، ین، ییز، تې، ګی، غالی، تون... لکه په بېلابېل، لیکوال، الوخېل، څولیزی، بهرنی، خاورین، سوله ییز، کوچنوټی، کورګی، لوبغالی، روزنتون کې). منځتاړي د تاړو هغه ډول دی چې د یو مورفیم یا لغت په منځ کې واقع کېږي او د نوې مانا لرونکی نوی لغت رامنځته کوي. لکه بېلابېل، مخامخ، زړه نازړه، شور ماشور، غالمغال... (شېرزاد، ۱۳۹۹ل: م م ۵۶ – ۶۰).

مختاړي د مورفیمونو له ډلې څخه هغه ناخپلواک مورفیمونه او تاړي دي، چې د لغوي بنسټ، ریښې او لغوي تنې څخه دمخه واقع کېږي او په لغت کې د مانیز بدلون لامل کېږي. د کلیمې له ریښې او لغوي تنې سره د مختاړي له یوځای کېدو څخه د لغت په مانا کې منفي بدلون رامنځته کېږي، په پایله کې یې ټول هغه لغتونه چې مختاړی ورسره یوځای شوی وي له مثبت څخه په منفي مانا باندې بدلون کوي. تړلي مورفیمونه بیا په خپل وار سره په دوو ډولونو (صرفي مورفیمونه او اشتقاقي مورفیمونه) وېشل شوي دي.

**د صرفي او اشتقاقي مورفيمونو ترمنځ توپيرونه**

صرفي مورفيمونه د يو لغت ګرامري ډلګۍ کې بدلون نه راولي، بل لور ته اشتقاقي مورفيمونه د لغتونو د مانيز بدلون ترڅنګ په ګرامري ډلګۍ کې هم بدلون راولي. اشتقاقي مورفيمونه راستنېدونکې او ارتجاعي ځانګړنې لري، يو لغت ښايي يو، دوه يا څو اشتقاقي مورفيمونه ولري. بل لور ته صرفي مورفيمونه راستنېدونکې ځانګړنه نه لري. کله چې په هممهالې توګه صرفي او اشتقاقي مورفيمونه په يو لغت يا لغوي ريښه کې راغلي وي، نو په ټاکلي ترتيب سره په لغوي جوړښت کې راڅرګندېږي، په دې مانا چې صرفي تاړي تل د لغت په وروستۍ برخه کې راځي. په دې توګه چې ورپسې په همدغه لغت کې بل تاړی رانشي. اشتقاقي مورفيمونه بيا په خپل وار سره په دوو ډولونو وېشل شوي دي.

- د ګرامري ډلګۍ بدلوونکي اشتقاقي مورفيمونه: دا د مورفيمونو هغه ډله ده چې د وروستاړو په توګه د لغتونو په ريښې پورې نښلي او په پايله کې د نوې مانالرونکي لغتونه پنځوي. لکه: استاد –استادي، ليک –ليکوال، کور – کورنۍ....
- د ګرامري ډلګۍ نه بدلوونکي اشتقاقي مورفيمونه: د مورفيمونو هغه ډول دی چې د وروستاړو په توګه د لغتونو په ريښې پورې نښلي او په پايله کې يې نوی لغت په داسې توګه رامنځته کېږي چې ګرامري ډلګۍ يې په خپل حال پاتې خو مانيز بدلون پکې رامنځته شوی وي. لکه: استاد – استادان، ليک – ليکونه، ښوونځي – ښوونځي....

خپلواک مورفيم هغه مورفيم ته ويل کېږي چې د يو خپلواک لغت په څېر په ځانګړې توګه کارېدلی شي. په نورو ټکو خپلواک مورفيمونه د نورو مورفيمونو له ملتيا پرته په ځانګړي او انفرادي توګه کارېدلی شي. لغوي مورفيمونه هغو مورفيمونو ته ويل کېږي چې بشپړه او محتوايي مانا لېږدوي، په دې مانا چې د خپلواکې او بشپړې مانا لرونکي وي. په نورو ټکو ګرامري مورفيمونه هغو مورفيمونو ته ويل کېږي چې د نورو مورفيمونو ترمنځ د تړاو او اړيکو ښکارندويي کوي. دغه مورفيمونه کومه خپلواکه مانا نه لېږدوي بلکې له نحوي جوړښت سره د ګرامري مانا په لېږد کې رغنده مرسته کوي، څو بشپړه او هر اړخيزه مانا ولېږدوي (څوليزی، ۱۳۹۹ل: م م ۱۴۸ - ۱۵۱).

خپلواک مورفيمونه بيا په خپل وار سره په لغوي مورفيمونو او ګرامري مورفيمونو وېشل شوي دي. لغوي مورفيمونه هغو مورفيمونو ته ويل کېږي چې لغوي يا قاموسي مانا ولري لکه: نومونه، ستاينومونه، فعلونه او قيدونه. بل لور ته ګرامري مورفيمونه هغو مورفيمونو ته ويل کېږي چې لغوي مانا نه لري بلکې يوازې ګرامري مانا ولري. تړلي مورفيمونه هغو مورفيمونو ته ويل کېږي چې د خپلواکو مورفيمونو برعکس ګڼل کېږي، په دې مانا چې په يوازې او خپلواکه توګه د استعمال وړ نه وي. تړلو مورفيمونو ته تاړي هم ويل کېږي او په پښتو کې بيا تاړي په ټوله کې په دريو ډولونو (مختاړي، منځتاړي او وروستاړي) وېشل شوي دي. د ګړپوهنې له مخې د مختاړو، منځتاړو او وروستاړو ترڅنګ په ځينو ژبو کې يو ډول نور تاړي هم شته، چې د سرپای تاړي (سرکمفېکس) په نامه يادېږي. د لغوي جوړښت له مخې سرپای تاړي (سرکمفېکس) هغه تاړي دي چې په دوو برخو کې په لغت پورې نښلي، په دې مانا چې يو يې د لغت په سر يا پيلنۍ برخې او بل يې په پای پورې نښلول کېږي. سرکمفېکس يوه مباحثه

يي موضوع ده، موږ کولی شو د رغښت له مخې يې په مختاړي او وروستاړي باندې وويشو، ځکه چې په همهالې توګه په لغوي تنې پورې نښتي دي (Aronoff and Fudeman, 2011: pp159-162).

**په مورفيمونو کې د فونيمونو ځای پرځاينه او مانيزې اغېزې يې**

دا چې د وخت په تېرېدو سره انسان وده او نمو کوي، دغه شان يې چاپېريال کړه وړه، ټولنه او په ځانګړې توګه ژبه هم بدلون کوي، ځکه چې انساني ژبه نېغ په نېغه د ټولنې له ادلون بدلون سره تړاو لري؛ نو له هر راز مثبت او منفي اغېزو څخه يې ژبه هم اغېزمنېږي. دا چې ژبه يوه بدلون منوونکې پديده ده، نو دغه بدلونونه يې په ټوليزه توګه په غږيزو، ګړيزو، وييزو او نحوي جوړښتونو کې ليدلی شو. ژبني بدلونونه ګڼ عوامل لري چې د ژبپوهنې په بېلابېلو آثارو کې ورته نغوته شوې له هغې ډلې ټولنيز او پوهنيز پرمختګ، توليدات، انکشافات، تخنيک، ټکنالوژي، راکړه ورکړه، ژباړې، ګاونډيتوب او نورو څخه د بېلګې په توګه يادونه کوو. دغه بدلونونه په روښانه توګه د ژبې په ګرامري توکو او جوړښتونو کې تر سترګو کېږي.

د پورته يادو شويو ژبنيو بدلونونو څخه مهم او اغېزمن بدلون غږيز بدلون دی؛ ځکه چې په يو وييز جوړښت کې غږيز بدلون د صرفي او لغوي بدلون لامل کېږي او وييز بدلون بيا په ټوله کې د ګرامري او مانيز بدلون سرچينه ګڼل کېږي. دا چې زموږ موضوع په پښتو لغوي جوړښت کې د غږونو مورفولوژيکي او مانيزې اغېزې دي، نو په لاندې جدول کې مو موټيې له خرواره ځينې داسې بېلګې راوړې چې په وييز جوړښت کې يې غږيز بدلون، زيادښت يا هم کمښت په ټوله کې د مانيز او ګرامري بدلون لامل شوی دی. د پښتو ژبې په لغوي جوړښت کې که يو فونيم د لغوي ريښې په پيليزه، منځنۍ يا په پای کې زيات او يا هم ورڅخه کم شي يا که په ټوليزه توګه بل غږ يې ځايناستی شي؛ نو دغه چاره په لغوي جوړښت او مانا کې يې بدلون راولي. دغه راز بدلونونه کله د جنس، شمېر، حالت، يو ګړي، ډېر ګړي، فاعليت، مفعوليت، تړاو، ملکيت، فعليت، متکلم، مخاطب، غايب، مهال او ګڼو نورو ځانګړنو ښکارندويي کوي لکه په لاندې جدول کې:

**په لغتونو کې د غږونو او مورفيمونو ځای پرځاينه او د مانيز بدلون بېلګې**

| ګڼه | لغت | فونېټيکي بڼه | د فونيم/ مورفيم اداينه | جنس | شمېر | ګرامري ډلګی | ځېيز شمېر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | غل | /ɣal/ | زور /a/ په منځ کې | نارينه | مفرد | اسمي | يو ځېيز |
| ۲ | غله | /ɣla/ | زور /a/ په پای کې | ښځينه | مفرد | اسمي | يو ځېيز |
| ۳ | غله | /ɣlə/ | زورکی /ə/ په پای کې | نارينه | جمع | اسمي | يو ځېيز |
| ۴ | غلې | /ɣle/ | زېر /e/ په پای کې | ښځينه | مفرد | اسمي | يو ځېيز |
| ۵ | غلې | /ɣəle/ | زورکی /ə/ په منځ او زېر /e/ په پای کې | ښځينه | مفرد | اسمي | دوه ځېيز |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | غلې | /ɣale/ | زور /a/ په منځ او زېر /e/ په پای کې | ښځینه | جمع | اسمي | دوه ځپیز |
| ۷ | غلو | /ɣlo/ | اوږد واو /o/ په پای کې | نارینه | جمع | اسمي | یو ځپیز |
| ۸ | مل | /mal/ | زور /a/ په منځ کې | نارینه | مفرد | اسمي | یو ځپیز |
| ۹ | مله | /mla/ | زور /a/ په پای کې | ښځینه | مفرد | اسمي | یو ځپیز |
| | | /mlə/ | زورکی /ə/ په پای کې | نارینه | جمع | اسمي | یو ځپیز |
| ۱۰ | مله | /mala/ | زور /a/ په منځ او پای کې | نارینه | مفرد | اسمي | دوه ځپیز |
| ۱۱ | ملې | /mle/ | زېر /e/ په پای کې | ښځینه | جمع | اسمي | یو ځپیز |
| ۱۲ | پوخ | /pox/ | اوږد /o/ په منځنۍ برخه کې | نارینه | مفرد | اسمي | یو ځپیز |
| ۱۳ | پوخه | /poxa/ | په پای کې د زور /a/ زیاتېدل | نارینه | مفرد | اسمي | دوه ځپیز |
| ۱۴ | پخه | /paxa/ | لومړۍ او دویمه ځپه دواړه په زور /a/ پای مومي. | ښځینه | مفرد | اسمي | دوه ځپیز |
| ۱۵ | پخې | /paxe/ | لومړۍ ځپه په زور /a/ او دویمه په زېر /e/ پای شوې | ښځینه | مفرد | اسمي | دوه ځپیز |
| ۱۶ | پخو | /paxo/ | وروستۍ ځپه اوږد واو /o/ راغلی دی. | نارینه او ښځینه | جمع | اسمي | دوه ځپیز |
| ۱۷ | پاخه | /pɑxə/ | لومړۍ ځپه په الف /ɑ/ پای او په دویمه ځپه کې زورکی /ə/ راغلی دی. | نارینه | جمع | اسمي | دوه ځپیز |
| ۱۸ | سوړ | /soɽ/ | په منځنۍ برخه کې اوږد واو /o/ راغلی دی. | نارینه | مفرد | توصیفي | یو ځپیز |
| ۱۹ | سړه | /saɽa/ | د منځ اوږد واو /o/ په زور /a/ اوښتی او په وروستۍ ځپه کې زور /a / ور زیات شوی دی. | ښځینه | مفرد | توصیفي | دوه ځپیز |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ساړه | /sɑɽə/ | لومړۍ څپه کې د الف /ɑ/ فونیم راغلی او په دویمه څپه کې زورکی /ə/ راغلی دی. | نارینه | جمع | توصیفي | دوه څپیز |
| ۲۱ | سړې | /saɽe/ | لومړۍ څپه کې زور /a/ راغلی او په دویمه څپه کې زبر /e/ راغلی دی. | ښځینه | مفرد | اسمي | دوه څپیز |
| ۲۲ | سړو | /saɽo/ | لومړۍ څپه کې زور /a/ راغلی او په دویمه څپه کې اوږد واو /o/ راغلی دی. | نارینه | جمع | اسمي | دوه څپیز |
| ۲۳ | سپی | /spay/ | د /sp/ په ساکنې ډلگۍ پیل او په /ay/ غبرگغږ پای شوی دی. | نارینه | مفرد | اسمي | یو څپیز |
| ۲۴ | سپۍ | /spəy/ | د /sp/ په ساکنې ډلگۍ سره پیل او د /əy/ په دفتانگ سره پای شوی دی. | ښځینه | مفرد | اسمي | یو څپیز |
| ۲۵ | سپیان | /spyɑn/ | په پیلیزه برخه کې د /spy/ درې ساکن توري او په پای کې یې د /an/ تاړی راغلی دی. | نارینه | جمع | اسمي | یو څپیز |
| ۲۶ | سپیانو | /spyɑno/ | د جمعې نارینه نوم په پای کې یوازې یو اوږد واو /o/ ورزیاتېږي. | نارینه | جمع | اسمي | دوه څپیز |
| ۲۷ | سپو | /spo/ | د مفرد نارینه د پای دفتانگ /ay/ په یواځیني یو غږ یا مونوفتانگ /o/ اوښتی دی. | نارینه | جمع | اسمي اوښتې بڼه | یو څپیز |
| ۲۸ | لیک | /lik/ | د لغت آر او ریښه | نارینه | مفرد | اسمي | یوڅپیز |
| ۲۹ | لیکه | /lika/ | د لغوي ریښې په پای کې زور /a/ ور زیات شوی | نارینه او ښځینه | مفرد | امري فعل | دوه څپیز |
| ۳۰ | لیکه | /likə/ | د لغوي ریښې د پای زور /a/ په زورکي /ə/ بدل شوی | نارینه او ښځینه | مفرد | تېرمهالی فعل | دوه څپیز |
| ۳۱ | لیکې | /like/ | د لغوي ریښې د پای زورکی /ə/ په زبر /e/ بدل شوی | نارینه او ښځینه | مفرد | فعلي | دوه څپیز |
| ۳۲ | لیکي | /liki/ | د لغوي ریښې د پای زبر /e/ په څرگنده یا /i/ بدل شوی | نارینه او ښځینه | مفرد او جمع | فعلي | دوه څپیز |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | لیکئ | /likəy/ | د لغوي ريښې د پای زېر /e/ چې مونوفتانګ دی د /əy/ په دفتانګ بدل شوی | نارینه او ښځینه | جمع | فعلي | دوه څپيز |
| ۳۴ | لیکو | /liku/ | د لغوي ريښې د پای زېر /e/ په پېښ /u/ بدل شوی | نارینه او ښځینه | جمع | فعلي | دوه څپيز |
| ۳۵ | لیکم | /likəm/ | د لغوي ريښې د پای زېر /e/ په /əm/ مورفيم بدل شوی | نارینه او ښځینه | مفرد | فعلي | دوه څپيز |
| ۳۶ | لیکنه | /likəna/ | د لغوي ريښې د پای زېر /e/ په زورکي /ə/ اوښتی او د /na/ مورفيم ورپورې نښلول شوی | ښځینه | مفرد | اسمي | درې څپيز |
| ۳۷ | لیکنې | /likəne/ | د لغوي ريښې د پای زېر /e/ په زورکي /ə/ اوښتی او د /ne/ مورفيم ورپورې نښلول شوی | ښځینه | جمع | اسمي | درې څپيز |
| ۳۸ | لیکنو | /likəno/ | د لغوي ريښې د پای زېر /e/ په زورکي /ə/ اوښتی او د /no/ مورفيم ورپورې نښلول شوی | ښځینه او نارینه | جمع | اسمي | درې څپيز |
| ۳۹ | لیکوال | /likwɑl/ | د لغوي ريښې په پای کې د /wɑl/ مورفيم نښلول شوی | نارینه | مفرد | اسمي | دوه څپيز |
| ۴۰ | لیکواله | /likwɑla/ | د لغوي ريښې د پای /wɑl/ مورفيم سره زور /a/ ور زيات شوی | ښځینه | مفرد | اسمي | درې څپيز |
| ۴۱ | لیکوالې | /likwɑle/ | د لغوي ريښې د پای /wɑl/ مورفيم سره زېر /e/ ور زيات شوی | ښځینه | مفرد | اسمي | درې څپيز |
| ۴۲ | لیکوالو | /likwɑlo/ | د لغوي ريښې د پای /wɑl/ مورفيم سره اوږد واو /o/ ور زيات شوی | نارینه | جمع | اسمي | درې څپيز |
| ۴۳ | لیکوالان | /likwɑlɑn/ | د لغوي ريښې د پای /wɑl/ مورفيم سره بل مورفيم /ɑn/ ور زيات شوی | نارینه | جمع | اسمي | درې څپيز |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۴ | ليکوالانو | /likwɑlɑno/ | د لغوي ريښې د پای /wɑl/ مورفيم سره بل مورفيم /ɑn/ نښلول شوی او په پای کې يې اوږد واو /o/ور زيات شوی دی | نارينه | جمع | اسمي | څلور څپيز |
| ۴۵ | ليکوالانې | /likwɑlɑne/ | د لغوي ريښې د پای /wɑl/ مورفيم سره بل مورفيم /ɑn/ نښلول شوی او په پای کې يې زېر /e/ور زيات شوی دی | ښځينه | جمع | اسمي | څلور څپيز |

(مشواڼی، ۱۳۹۱ل: م م ۶۹۸-۹۲۹).

که پورتنی جدول په ځيرنې سره تر کتنې لاندې ونيسو، نو د پښتو ژبې په لغوي جوړښت کې به د غږونو په مورفولوژيکي او مانيزو اغېزو او ارزښتونو ته متوجې شو، چې دغه چاره په پښتو ژبه کې څومره مهمه او ارزښتمن نقش لوبوي. همدا يواځيني غږونه دي چې د مورفيمونو په بڼه د وييز جوړښت په منځنۍ او وروستۍ برخه کې د لغت له آرې بنې او ريښې سره يوځای او په ترڅ کې يې د نوې بڼې مانالرونکي لغتونه پنځېږي. پر دغې چارې د ښه پوهاوي لپاره اړ يو څو په پورتني جدول کې موتيې له خروار څخه راوړل شويو لغتونو کې هغه فونولوژيکي بدلونونه چې د وييز جوړښت د مورفولوژيکي او مانيز بدلون لامل شوي وشنو. که له پورتني جدول څخه يوازې د «ليک» بېلگه په پام کې ونيسو چې له آره پښتو ريښه لري، له دغه لغت سره بېلابېل غږونه د تاړو او مورفيمونو په توگه داسې يوځای شوي چې په پايله کې يې د نوې مانالرونکي او له گرامري اړخه نوي لغتونه پنځولي دي لکه په لاندې تشرېحاتو کې:

ليک چې له آره له گرامري او مانيز اړخه يو خپلواک مورفيم دی، که په پای کې يې يو فونيم زور /a-/ ور زيات شي نو په ترڅ کې يې د ياد لغت لغوي مانا او گرامري ډلگۍ دواړه بدلون کوي په دې مانا چې يو نوی لغت (ليکه /lika/) رامنځته کېږي. دغه لغت امري صيغه لري او په حال مهال کې د يو کس له لوري د ليکنې چاره ترسره کولو مانا ورکوي. که چېرته په همدغه نوي لغوي جوړښت (ليکه) کې د پای زور /a-/ په بل غږ زورکي /ə-/ بدل کړو، نو هم په ترڅ کې يې د نوې مانا لرونکی بل لغت ( ليکه /likə/) رامنځته کېږي، چې لغوي مانا يې په تېرمهال کې د متکلم يا مخاطب يو گړي يا ډېرگړو له لوري ليکل يا ليکلو ته دوام ورکول ده. دلته يوه خبره پام وړ ده هغه دا چې په پښتو مروج ليکدود کې زور /a-/ او زورکی /ə-/ دواړه په يوه گرافيم سره ښودل او ليکل کېږي؛ نو ځکه د حاضردمي مفرد (ليکه – lika) او تېرمهالي يوگړي او ډېرگړو (ليکه - likə) ترمنځ توپير يوازې له کارول شوي متن او جملې څخه شونی دی.

بل لور ته که د ياد لغت د پای فونيم د زور او زورکي پرځای په زېر /e-/ تبديل کړو، نو په نتيجه کې يې له گرامري او مانيز اړخه يو نوی لغت (ليکې /like/) رامنځته کېږي. دغه لغت له گرامري اړخه په کړوالي ډلگۍ پورې اړوندېږي او که له مانيز اړخه يې وځيرو، نو د مفرد مخاطب له لوري په اوس مهال کې د ليکنې عمليې ترسره کولو مانا ورکوي. همدارنگه که په همدغه لغوي جوړښت (ليکې) کې يو ځل بيا د پای غږ (ې /e-/) په بل فونيم (ي /-

i/) واړوو، نو هم ددغه ادلون بدلون په ترڅ کې له ګرامري او مانيز اړخه يو نوی لغت (ليکي /liki/) رامنځته کېږي. ياد لغت (ليکي) له ګرامري اړخه په فعلي ډلګۍ پورې اړونديږي او له مانيز اړخه د مفرد يا جمعې غايب له لوري د ليکنې چاره ترسره کولو يا کېدلو مانا ورکوي. بل بدلون چې په ياد لغت (ليکي) کې يې راوستلی او ليدلی شو که په همدغه وييز جوړښت کې د پای غږ چې يو مونوفتانګ يا يو يواځينی غږ /i-/ دی که په غبرګغږ يا دفتانګ (ئ/əy-/) تبديل او واړول شي، نو هم په پايله کې يې له ګرامري او مانيز اړخه بل نوی لغت (ليکئ /likəy/) رامنځته کېږي. دغه لغت هم له ګرامري او مانيز اړخه له تېرو او نورو لغتونو سره توپير لري، د ګرامر له مخې په فعلي ډلګۍ کې شامليږي او له مانيز اړخه د جمع مخاطبينو له لوري د ليکنې يا ليکلو ښکارندويي کوي.

بل لور ته که د ياد لغت (ليکئ) غبرګغږ يا دفتانګ بېرته په مونوفتانګ يا يو يواځيني غږ پېښس /u-/ باندې تبديل کړو، نو په ترڅ کې يې له ګرامري او مانيز اړخه يو بل نوی لغت (ليکو /liku/) رامنځته کېږي. دغه لغت د ګرامري ډلګۍ له مخې په فعلي برخه کې راځي او مانا يې د جمع متکلم له لوري په اوس مهال کې د ليکنې چاره ترسره کول دي. په همدې لغت کې بل بدلون داسې تر سترګو کېږي چې له آر مورفيم ( ليک) سره په پای او وروستۍ برخه کې يو بل مقيد مورفيم ( م /əm-/) ونښلوو، نو په ترڅ کې يې يو نوی او د جلا ګرامري او مانيزې مانا لرونکی لغت (ليکم /likəm/) رامنځته کېږي. دغه نوی لغت د ګرامر له مخې فعل او که له مانيز اړخه يې وځيرو نو د مفرد متکلم له لوري په اوسني او حاضردمي مهال کې د ليکنې چاره ترسره کولو مانا ورکوي. دلته بايد يو څه هېر نکړو په ( ليکم - likəm) کې د /əm-/ مورفيم په پښتو ژبه کې په يو يواځيني غږ /م/ سره ښودل شوی، په داسې حال کې که له فونېټيکي اړخه يې وځيرو نو دغه مورفيم په خپله له دوو غږونو زورکي /ə/ او ميم /m/ څخه رغښت موندلی دی.

بل لور ته که د (ليک) آر مورفيم له ريښې سره يو بل ناخپلواک مورفيم (نه /əna-/) په وروستۍ برخه کې ونښلوو، نو په پايله کې يې د نوې ګرامري او لغوي مانالرونکی لغت (ليکنه /likəna/) رامنځته کېږي. دغه نوی لغت له ګرامري اړخه په اسمي او فعلي ډلګۍ ورګډېږي. که له صرفي اړخه يې وشنو نو (ليک /lik/) يو خپلواک او آر مورفيم او (نه /əna-/) يو مقيد مورفيم دی. په دغه لغوي جوړښت کې تړلی مورفيم په ټوله کې له درېوو غږونو څخه رغښت موندلی، خو په عمومي توګه يې يوازې يو ناآر مورفيم رامنځته کړی دی. اوس که چېرته په دغه نوي لغت (ليکنه) کې د مقيد مورفيم وروستی خپلواک غږ زور /a-/ په زېر /e-/ بدل کړو، نو په ترڅ کې يې له لغوي او ګرامري اړخه بل نوی لغت (ليکنې /likəne/ ) رامنځته کېږي. دغه لغت چې له آره له دوو مورفيمونو (ليک /lik-/) خپلواک او (نې /əne-/) مقيد څخه رغښت موندلی، د تړلي مورفيم په جوړښت کې يوازې وروستی خپلواک زور په زېر اوښتون موندلی چې په ترڅ کې يې د ياد لغت ګرامري او لغوي مانا ته بدلون ورکړی دی. اوس که په همدغه وييز جوړښت کې د دويمي مورفيم وروستی غږ له زېر /e/ څخه په اوږد واو /o/ واړوو، نو په ترڅ کې يې د ياد لغت (ليکنې) ګرامري او مانيزه ډلګۍ بدلون کوي او يو نوی لغت (ليکنو /likəno/) رامنځته کېږي. له ګرامري اړخه دغه لغت په نومواله ډلګۍ کې راځي چې د (ليکنه) جمع او اوښتې بڼه ده.

که چېرته د پورتني آر او خپلواک مورفیم (لیک /lik/) له ریښې سره یو بل مقید مورفیم (وال /-wɑl/) یوځای کړو، نو په ترڅ کې یې له ګرامري او مانیز اړخه یو نوی لغت (لیکوال /likwɑl/) رامنځته کېږي. دغه لغت له ګرامري اړخه په اسمي ډلګۍ کې راځي او له مانیزه پلوه د مفرد نارینه ښکارندویي کوي. که همدغه نوي لغت ته له مورفولوژیکي اړخه لږ نور پرمختګ هم ورکړو او د دویمي مقید مورفیم په پای کې یې بل خپلواک زور /a-/ د مقید مورفیم په توګه ورزیات کړو، نو په نتیجه کې یې له ګرامري او لغوي پلوه نوی لغت (لیکواله /likwɑla/) رامنځته کېږي. دغه لغت له ګرامري اړخه په اسمي ډله کې شاملېږي او له مانیز اړخه د مفرد ښځینه مانا ورکوي.
په حقیقت کې دغه نوی لغت له درېوو مورفیمونو چې (لیک /-lik/) پکې آر او خپلواک او (وال /-wɑl/) او (هـ /a-/) پکې مقید دي او یو په بل پسې راغلي رغښت موندلی دی. اوس که په همدغه نوي لغوي جوړښت کې چې له درېوو مورفیمونو یې رغښت موندلی وروستی مقید مورفیم زور (هـ /a-/) په زېر (ې /e-/) بدل کړو، نو په ترڅ کې یې د نوې لغوي او ګرامري مانالرونکی نوی لغت (لیکوالې /likwɑle/) رامنځته کېږي. دغه لغت له ګرامري اړخه په اسمي ګروپ کې راځي او له مانیز اړخه د مفرد ښځینه مانا ورکوي. په همدغه لغوي جوړښت کې بل بدلون داسې رامنځته کېدی شي، که د پای مقید مورفیم زېر /e-/ یې له بل مقید مورفیم اوږد واو /o-/ سره ځایناستی کړو، نو په ترڅ کې یې د نوې ګرامري او لغوي مانالرونکی بل نوی لغت (لیکوالو /likwɑlo/) رامنځته کېږي. دغه لغت له ګرامري اړخه په نوموالیه کټګورۍ کې راځي او له مانیز اړخه د جمعې نارینه مانا رسوي.
که په پای کې د (لیک /lik/) آر مورفیم او لغت سره په پرله پسې توګه دوه مقید مورفیمونه (وال /-wɑl/) او (ان /-ɑn/) په ریښې پورې نښتي راشي، نو په ترڅ کې یې له لغوي او ګرامري اړخه یو نوی لغت (لیکوالان /likwɑlɑn/) رامنځته کېږي. دغه نوی لغت له ګرامري اړخه په نوموالیه ډلګۍ کې شاملېږي، خو له مانیز پلوه بیا د جمع نارینه ډېرګړو ښکارندویي کوي. که د همدغه نوي لغت له ریښې سره په پای کې په دوو مقیدونو مورفیمونو (وال /-wɑl/) او (ان /-ɑn/) پسې یو بل درېمګړی ناخپلواک مورفیم او خپلواک غږ اوږد واو /o-/ ورزیات کړو، نو په پایله کې یې له ګرامري او لغوي پلوه یو نوی لغت (لیکوالانو /-likwɑlɑno/) رامنځته کېږي. دغه لغت له ګرامري اړخه په اسمي ډله کې راځي او له مانیزه اړخه که وځیرل شي نو د جمعې نارینه او اوښتې بڼې ښکارندویي کوي. د غږیز او صرفي بدلون په پای کې که په همدغه نوي لغت (لیکوالانو) کې درېیم مقید مورفیم او خپلواک غږ (و /o-/) په بل مقید مورفیم او خپلواک غږ (ې /e-/) تبدیل کړو، نو په ترڅ کې یې د نوې لغوي او ګرامري مانا لرونکې نوی لغت (لیکوالانې /likwɑlɑne/) رامنځته کېږي. په دغه نوي لغوي جوړښت کې (لیک /-lik/) آر او خپلواک مورفیم او (-وال /-wɑl/) ، (-ان /-ɑn/) او (-ې /e-/) په پرله پسې توګه مقید مورفیمونه دي. له ګرامري اړخه دغه نوی لغت په نوموالیه ډله کې راځي او له مانیز پلوه جمع ښځینه مانا ورکوي.

**پایله**

ګرامر د ژبپېژندنې په برخه کې رغنده او اساسي نقش لوبوي او د ژبنیو بنسټیزو توکو د ملا تیر جوړوي. غږونه، مورفیمونه، لغتونه او نحوي جوړښتونه د ګرامر بنسټیز توکي ګڼل کېږي. د دې څېړنې په پایله کې دې نتیجې ته رسېږو چې غږونه د پښتو ژبې په صرفي او لغوي جوړښتونو کې رغنده نقش لوبوي. د پښتو ژبې په وییز جوړښت

کې غږونه د جنسیت، شمېر، حالت، ګرامري ډلګۍ او مانيزې کټیګورۍ ټاکوونکي او ځرګندوی دي. له څېړنې څخه دا هم ثابته شوه چې د پښتو ژبې په لغوي جوړښت کې یواځیني غږونه نه یوازې دا چې د فونیمونو په توګه کارېږي، بلکې همدغه فونیمونه په یوازې او ګروپي شکل خپلواک او مقید مورفیمونه هم رغوي. همدغه مورفیمونه او فونیمونه دي چې د کلیماتو ګرامري ډلګۍ او مانیز اړخ ټاکي. په دې مانا چې یوه کلیمه نارینه، ښځینه، مفرد، جمع، د ګرامري ډلګۍ له مخې نوم، ستاینوم، ضمیر، فعل، فاعل، مفعول یا هم کومې بلې ډلې څخه دی. همدارنګه دې پایلې ته هم ورسېدو چې فونیمونه او مورفیمونه د زمان، مکان او حالت ټاکوونکي او ځرګندوی دي. د فونیمونو او مورفیمونو بله مانیزه ګټه او اغېز دا دی چې د همشکله او ورتنیو او همدارنګه همغږو کلیمو په لفظي اداینه، مانیز توپیر او د څېیز شمېر په تفکیک او درک کولو کې هم د ژبې زده کوونکو، ژبڅېړونکو او ژبپوهانو سره رغنده مرسته کوي. نو په لنډه توګه ویلی شو پورتني هغه ټکي ول چې په پښتو لغوي جوړښت کې د غږونو مورفولوژیکي او مانیزې اغېزې را په ګوته کوي.

**ماخذونه**

پنزل، هربرت. (۱۳۸۹ل). د پښتو ګرامر. ژباړن: الهارم، محمد رحیم. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

چمتو، محمد قسیم. (۱۳۹۸ل). تشرېحي ژبپوهنه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

خوښکی، محمد صابر. (۱۳۹۷ل). پښتو معاصر ګرامر له فونیمه تر جملې. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

څولیزی، محمد عثمان. (۱۳۹۹ل). عمومي ژبپوهنه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

رښتین، صدیق الله. (۲۰۱۴م). پښتو ګرامر. ژباړن: هاشمي. سید محي الدین. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسی.

زیار، مجاور احمد. (۱۳۸۴ل). پښتو پښویه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

زیار، مجاور احمد. (۱۳۹۳ل). پښتو وییپوهنه او وییرغاونه. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

شافییف، د، ا. (۱۳۹۵ل). د پښتو ژبې لنډ ګرامر. ژباړن: لودین، دولت محمد. جلال آباد: ختیځ ادبي بهیر.

شپون، وجیه الله. (۱۳۹۵ل). د لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې اړیکې. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

شینواری، دوست محمد دوست. (۱۳۹۳ل). د افغانستان ژبې او توکمونه. بیاکتنه: هاشمي، سید محي الدین او فاضل، ولي الله.کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

شېرزاد، محمد آقا. (۱۳۹۷ل). پښتو ګرامر مورفولوژي.کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

غوربندی، میراجان. (۱۳۹۹ل). د ژبپوهنې مبادي. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

غوربندی، میراجان. (۱۳۹۸ل). د پښتو ژبې تاریخ. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

غوربندی، میراجان. (۱۳۹۸ل). لیکسیکالوژي (لغت پوهنه). کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

مشوانی، عبدالقیوم زاهد. (۱۳۹۱ل). زاهد پښتو- پښتو سیند. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

ملاتړ، زکریا. (۱۳۹۷ل). په پښتو ژبه کې د نورو ژبو وییونه او اصطلاحات. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

Aronoff, Mark and Fudeman, Kirsten. ۲۰۱۱م. *What is Morphology?* Second edition. United Kingdom: Blackwell Publishing.